**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۳۲** (از ۷ سنبله الی ۱۴ سنبله ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**مذاکرات صلح بدون پاکستان!**

- تعویق مذاکرات ........ ۴
- تبلیغات بر ضد پاکستان........ ۴
- رقابت‌های کشورهای منطقه ........ ۵
- سفر سوزان رایس به پاکستان ........ ۵
- گزینۀ بعدی پس از پاکستان ........ ٦

**اداري فساد؛ افغان حکومت ته ستره ننګونه**

- افغانستان او اداري فساد ........ ۹
- د اداري فساد پرضد وروستۍ هڅې ........ ۹
- په افغانستان کې د اداري فساد جرړې........ ۱۰
- د کابلبانک او بهارجوړونې وزارت قضيې........ ۱۱
- حل‌لارې او سپارښتنې ........ ۱۱

## مقدمه

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو له خرابېدو وروسته، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې په خبرو کې د پاکستان د وساطت په اړه هم د چارواکو له خوا بېلابېلې څرګندونې کېږي. د سولې د عالي شورا او له طالبانو سره د خبرو اترو د پلاوي ځینې غړي وايي، چې له طالبانو سره د روغې جوړې خبرې د پاکستان له وساطت پرته ناشونې دي؛ خو جګپوړي حکومتي چارواکي بیا پاکستان په دوه‌مخۍ تورنوي او وايي چې له دې وروسته به د سولې خبرې د پاکستان په منځګړتوب ونه شي.

له تېرې یوې میاشتې راهیسې د دواړو هېوادونو د اړیکو خرابېدو لپاره هم ګڼ شمېر عوامل راټوکېدلي او ترڅنګ یې د اړیکو بیا رغولو هڅې هم روانې دي. اوس پوښتنه دا ده، چې ایا افغان حکومت په رښتیا نه غواړي چې له دې وروسته د پاکستان له لارې له طالبانو سره د خبرو اترو بهیر مخته یوسي؟ که همداسې وي، نو د سولې په خبرو کې د منځګړتوب بل انتخاب به څه وي؟

د تحلیل په دویمه برخه کې، د اداري فساد پر ضد د افغان حکومت د وروستیو هلو ځلو او د اداري فساد د وروستي وضعیت په اړه لولئ. په داسې حال کې چې په کابل کې د سیمې او نړۍ د هېوادونو په ګډون، د اقتصادي همکاریو او له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د مرستې په تړاو دوې مهمې غونډې جوړې شوې؛ افغان حکومت لاهم د اداري فساد پر ضد د مبارزې په چاره کې کومه د پام وړ لاسته راوړنه نه لري.

د دې اونۍ په تحلیل کې، د همدغو موضوعاتو په اړه د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د خپرنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# مذاکرات صلح بدون پاکستان!



با روی کار آمدن حکومت وحدت ملی در افغانستان، بعد از امضای قرارداد امنیتی با امریکا و ناتو، مهمترین قدمی که در بخش دیپلوماتیک برداشته شد، تجدید نظر در روابط میان افغانستان و پاکستان بود.

هرچند اشرف غنی تجربهٔ حکومت سلف خویش را داشت که با وجود اینکه حامدکرزی در طول دوران ریاست جمهوری خویش 15 سفر به اسلام‌آباد داشت، موفق نشد تا پاکستان را متقاعد به دست‌بردار شدن از طالبان سازد. و در آخرین روزهای حکومت وی، روابط با پاکستان همچنان سرد باقی ماند.

هرچند مشکل حکومت جدید این است که حکومتی یک‌دست نیست و در هرکاری جهت‌های مختلف تشکیل دهندهٔ این حکومت باید با همدیگر به تفاهم برسند؛ اما به نظر می‌رسد که در مسئلهٔ نزدیک شدن به پاکستان، هر دو تیم باهم توافق داشتند و این توافق نیز ناشی از توصیهٔ امریکا بود که باید افغانستان مشکلات خود را با پاکستان، از راه مذاکره حل نماید.

انتظار این بود که به دنبال سفرهای اشرف غنی و مقامات پاکستانی به کشورهای همدیگر، سیاست نزدیکی با پاکستان هرچه زودتر نتایج مثبت خویش را آشکار سازد. نخستین نشست به منظور یافتن راهی برای پایان جنگ

طولانی در افغانستان در مذاکراتی که در ارومچی کشور چین با وساطت پاکستان صورت گرفت، این امید را به میان آورد و این مذاکرات در اسلام‌آباد میان نمایندگان افغانستان و افرادی از طالبان پی گرفته شد.

## تعویق مذاکرات

در حالیکه امید می‌رفت مذاکرات بعدی میان حکومت افغانستان و طالبان به نتایج ملموس‌تری بیانجامد و به خصوص خبر از تقاضای آتش‌بس از جانب حکومت افغانستان از طالبان بود، انتشار خبر مرگ ملا محمد عمر مذاکرات را دچار سردرگمی ساخت. گردهمایی طالبان در نزدیکی شهر کویته به منظور بیعت با ملا اختر محمد منصور این حربه را به دست حکومت کابل داد تا بار دیگر پاکستان را به حمایت از طالبان متهم سازد.

انفجارهای شدید در کابل و تصرف ولسوالی موسی قلعهٔ ولایت هلمند توسط طالبان، نیز نشان داد که علی‌الرغم اینکه طالبان دچار اختلافات داخلی اند، اما در نظر شان در مورد جنگ تغییری وارد نیامده است. به این ترتیب پاکستان بار دیگر در افغانستان به دست داشتن در ناامنی‌ها متهم شد و روابط به شدت تیره گردید.

## تبلیغات بر ضد پاکستان

جنرال دوستم به عزم جنگ با طالبان که امنیت ولایت فاریاب را به خطر انداخته بودند، عازم شمال شد و در هر سخنرانی به مردم و در حضور رسانه‌ها مدعی شد که جنگ وی نه علیه طالبان بلکه علیه پاکستان و آی اس آی است. وی حتی مدعی شد که رهبری جنگ علیه وی در فاریاب را هم یک جنرال پاکستانی به عهده داشت.[۱]

در چنین زمان حساس، آغاز آبگیری بند سلما در هرات که به کمک هندوستان ساخته شده، موجب تبلیغات وسیعی در شبکه‌های اجتماعی به نفع هندوستان شد و تصاویری از آتش زدن بیرق پاکستان در کابل و بعضی از ولایات و بلند کردن بیرق هندوستان، بیش از پیش پاکستان را خشمگین ساخت.

کمپاینی هم در شبکه‌های اجتماعی و رسانه‌ها علیه تورید محصولات پاکستانی آغاز شد که به دولت نیز سرایت کرد و حتی در کابل توسط گروه‌هایی برای جنگ با پاکستان نام‌نویسی صورت گرفت و به این ترتیب میان دو

[1] See online:
http://www.1tvnews.af/fa/news/afghanistan/18186-2015-08-20-13-22-25

کشور که چند ماه قبل گمان می‌رفت در حد برگشت‌ناپذیری نزدیک شده است، ناگهان دچار ناگوارتر از دوران حامد کرزی گردید.[۲]

اما به نظر می‌رسد که با وجود تنش در روابط میان کابل و اسلام‌آباد، هر دو کشور برای بهبود روابط ناگزیری‌هایی دارند. در کنفرانس "ریکا" در کابل، سرتاج عزیز به نمایندگی از حکومت پاکستان شرکت نمود و در حاشیۀ این نشست در مورد بهبود روابط میان دو کشور همسایه نیز، با مقامات افغان صحبت داشت.

## رقابت‌های کشورهای منطقه

در نشست‌های ارومچی و اسلام‌آباد در کنار نمایندۀ ناظر از جانب ایالات متحدۀ امریکا، نمایندۀ چین نیز حضور داشت و این خود نشان می‌دهد که امریکا نیز به نقش چین در این مذاکرات اهمیت قایل است. سفیر چین در کابل، اخیرا در یک کنفرانس مطبوعاتی در قندهار در رابطه به نقش کشورش در پروسۀ صلح افغانستان گفت که چین تلاش خواهد کرد تا پاکستان را وادار سازد که در مبارزه علیه تروریزم با افغانستان و چین، به صورت مشترک کار نماید.

از جانب دیگر هرچند تلاش می‌شود تا رقابت میان هند و چین در منطقه کمرنگ جلوه داده شود، اما هندوستان از نقش پاکستان و چین در مسایل افغانستان راضی نیست و احساس می‌کند که میدان افغانستان را به نفع پاکستان از دست می‌دهد. اعلام عدم شرکت وزیر خارجۀ هند در نشست "ریکا" در کابل، با این نگرانی دهلی جدید بی‌پیوند نیست.

## سفر سوزان رایس به پاکستان

امریکا به پاکستان هشدار داده که اگر می‌خواهد صدها ملیون دالر کمک امریکا به این کشور ادامه یابد، باید در مبارزه علیه تروریزم با جدیت بیشتر اقدام نماید. سوزان رایس مشاور امنیت ملی امریکا در سفر به پاکستان، اتهامات افغانستان در مورد پاکستان را با مقامات این کشور در میان نهاد و از پاکستان خواست در مبارزه با تروریزم جدیت

[2] see online:
http://jomhornews.com/doc/news/fa/69560/

بیشتر به خرج دهند. وی از پاکستان خواست تا در برابر شبکهٔ حقانی که مسؤول حملات پیچیده در افغانستان شناخته می‌شود، دست به اقدامات جدی بزند.

در مقابل سرتاج عزیز مشاور صدراعظم پاکستان در امور خارجی گفت که پاکستان شبکهٔ حقانی را در داخل پاکستان نابود کرده و دیگر اثری از آن در پاکستان وجود ندارد. آن‌ها اکنون به افغانستان رفته اند.

سفر خانم رایس به پاکستان نشان از نگرانی امریکا از تیرگی روابط میان اسلام‌آباد و کابل دارد. برخورد مرزی میان افغانستان و پاکستان وضع را بدتر ساخته است و همین موضوع نیز از عوامل سفر سوزان رایس به پاکستان بود. از جانب دیگر امریکا می‌خواهد تا چین را ترغیب نماید که در پروسهٔ صلح افغانستان نقش فعال‌تری را به عهده بگیرد.

اما سفر خانم رایس را نباید فقط ماموریتی میانجی‌گرانه به منظور از میان بردن تنش در روابط میان اسلام‌آباد و کابل تلقی کرد بلکه وی می‌خواهد روابط میان هند و پاکستان نیز بهبود یابد. تنش در روابط میان دهلی و اسلام‌آباد یکی از عوامل ناامنی‌ها در جنوب آسیا است و امریکا می‌خواهد این دو کشور دارای سلاح اتومی، روابط خود بر سر مسئلهٔ کشمیر را حل نمایند.

با آن هم یکی از اهداف خانم رایس از سفر به پاکستان، ترغیب مقامات این کشور به از سر گرفتن مذاکرات صلح میان حکومت افغانستان و طالبان بود. ولی این کار در صورتی ممکن است که روابط میان دو کشور به حالت عادی برگردد. از جانب دیگر اختلاف در صف طالبان بعد از مرگ ملا محمد عمر نیز در این رابطه مشکل‌آفرین شده است.

## گزینهٔ بعدی پس از پاکستان

قاضی محمد امین وقاد یکی از اعضای شورای عالی صلح اخیرا گفته بود که مذاکرات صلح با طالبان، بدون وساطت پاکستان ممکن نیست. یکی از اعضای هئیت حکومت افغانستان در مذاکرات با طالبان نیز گفته است که طالبان گروهی یک‌دست نیستند و ما دقیقا نمی‌دانیم که کدام یک از این گروه‌ها صلاحیت تصمیم‌گیری در مورد مسایل مهم چون آتش‌بس را دارند. بنابراین لازم است تا پاکستان که با طالبان رابطهٔ نزدیک دارد، در این مورد وساطت نماید تا اطمینان حاصل گردد که افرادی که در مذاکرات شرکت می‌کنند، نمایندگان اصلی طالبان اند.[۳]

[3] see online:
http://da.azadiradio.org/content/article/27215571.html

از جانب دیگر داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرائیه گفته است که بعد از این، مذاکرات صلح با وساطت پاکستان صورت نخواهد گرفت. وی پاکستان را به عدم صداقت متهم نمود.[۴]

اما مشکل حکومت افغانستان این است که برنامۀ مشخصی برای صلح ندارد. اگر حکومت افغانستان واقعا نمی‌خواهد تا مذاکرات با طالبان از طریق پاکستان به پیش برود، لازم است تا برنامۀ دیگری را روی دست بگیرد. به عنوان مثال طرحی برای مذاکرات بین‌الافغانی را راه‌اندازی نماید و کار وساطت در مذاکرات صلح را به دوش هیئتی از افغان‌های بی‌طرف بگذارد که قابل قبول طالبان نیز باشند.

مشکل حکومت افغانستان فقط در اختلاف میان اعضای تشکیل دهندۀ حکومت نیست بلکه عوامل دیگری هم وجود دارد که می‌تواند روی سیاست‌های دولت در مورد صلح تاثیرگذار باشد. فشار گروه‌هایی مشهور به (جامعۀ مدنی) و تبلیغات بعضی از رسانه‌ها نیز در تغییر سیاست‌های دولت در مورد صلح موثر است. بعضی‌ها به این باور اند که تا زمانیکه سیاست دولت در مورد صلح با مخالفین را کامنت‌های فیس‌بوک تعیین کند، نمی‌توان به پیشرفتی در این زمینه امید داشت.

[4] see online:
http://www.payamerooz.net/NewsDetail.aspx?NsId=4603

# اداري فساد؛ د افغان حکومت ستره ننګونه



په تېرو څو ورځو کې کابل د "ریکا" او "سم" دوو مهمو غونډو کوربه و، چې د بحث موضوعات یې سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ، له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې مرستې او نړیوالو ته د افغان حکومت له خوا د اداري فساد پر ضد د مبارزې د لاسته راوړنو وړاندې کول وو. سره له دې چې له افغان حکومت سره د نړیوالې ټولنې مرستې له اداري فساد سره په مبارزې پورې تړل شوې دي؛ خو د اداري فساد د مبارزې په برخه کې لاهم کوم د پام وړ بدلون نه دی راغلی.

تېره اونۍ په کابل کې د اداري فساد پرضد د علماو له خوا یو کنفرانس جوړ شوی و، چې ولسمشر اشرف غني پکې د اداري فساد پر ضد د عالمانو پر رول ټینګار وکړ او د فساد د له منځه وړلو لپاره یې د علماوو له خوا د اداري فساد پر ضد د "جهاد" پیلول اړین وبلل. ښاغلي غني وویل، چې په افغانستان کې خلک او علما فاسد نه دي، بلکې ځینې چارواکي او قاچاقبر دي، چې افغانان یې بدنام کړي دي.

د اداري فساد په اړه څو اونۍ وړاندې په کابل کې یوه تحقیقاتي مرکز هم یوه سروې خپره کړه، چې له ناامنیو او بې‌کارۍ وروسته یې اداري فساد په هېواد کې دریمه لویه ستونزه ګڼلې وه.

افغان حکومت د اداري فساد پرضد ځینې گامونه پورته کړل؛ خو بیا هم ډېرى خبرې لاهم د شعار بڼه لري، چې په تېره اوونۍ کې د اداري فساد پر ضد د ولسمشر غني خبرې هم تر ډېره د افغانستان د مرسته کوونکو هېوادونو په کنفرانس کې، د مرستو راجلبولو په موخه وې.

## افغانستان او اداري فساد

د اداري فساد له کبله نه يوازې دا چې د خلکو حقونه ځپل کېږي، بلکې ډېرى افغانان هر کال په میلیونونو ډالر حکومتي چارواکو ته د «باج» په توگه ورکوي. د دې ترڅنگ اداري فساد د حکومتونو پر تندې د بدنامۍ داغ هم وي او په ډېرو ځایونو کې د همدغه اداري فساد له کبله ډېرى حکومتونه یا نسکور شوي او یا یې له کبله کوم بل گوند/چا ته واک سپارل کېږي. له همدې ځایه ده، چې اداري فساد د حکومتونو په دوام کې خپل اغېزناک رول لوبوي؛ خو افغانستان یوازینی هېواد نه دی چې له دغې ستونزې سره مخ دی، بلکې دا یوه له هغو ستونزو څخه ده چې معاصر دولتونه ورسره لاس او گرېوان دي.

د شفافیت نړېوالې ادارې د کلني راپور له مخې، افغانستان په ۲۰۱۴ کال کې د اداري فساد له کبله په نړۍ کې څلورم مقام خپل کړی و. د دغې ادارې د څېړنیز مېتود له مخې هر څومره چې د یوه هېواد امتیازونه کم وي، هومره په فساد کې ډېر ښکېل وي. افغانستان له ۱۰۰ امتیازونو څخه د ۱۲ امتیازونو په ترلاسه کولو سره په ۱۷۵ هېوادونو کې ۱۷۲ هېواد او په اداري فساد کې یوازې له سومالیې، شمالي کوریا او سوډان څخه وروسته و.

## د اداري فساد پر ضد وروستۍ هڅې

اشرف غني د خپل ټاکنیز کمپاین پرمهال د اداري فساد پرضد سخت دریځ نیولی و او دا یې د خپل حکومت لومړیتوب گڼه، چې همدې ټکي ته په پام سره یې د ولسمشر کېدو په دویمه ورځ د افغانستان د بانکي تاریخ ترټولو ستره دوسیه پرانېسته. همدا راز د لندن په کنفرانس کې یې د اقتصادي رفارم په اړه هم مقاله وړاندې کړه، چې د اداري فساد پرضد هڅې هم پکې بیان شوې وې. له دې جملې لاندې درې هڅې د یادونې وړ دي:

- د اداري فساد پر ضد خپلواک ماموریت به، چې محدود وخت او د پلي کولو واک به ولري، جوړوي؛
- د پلټنې په عالي اداره کې به اصلاحات راولي؛

- د افغانستان د ملي تدارکاتو کمیسیون به جوړوي، چې لوی قراردادونه وڅېړي، ترڅو افغانستان د فساد له لویې کچې څخه وژغوري.[5]

که څه هم د اداري فساد پرضد پورتنۍ اداره تراوسه نه ده جوړه شوې او نه د پلټنې په عالي اداره کې اصلاحات راوستل شوي؛ خو په ارګ کې د ولسمشر تر نظارت لاندې د ملي تدارکاتو کمیسیون په کار پیل کړی او د قراردادونو پر څېړلو بوخت دی. له همدې ځایه ده، چې ولسمشر اشرف غني تېره اوونۍ د اداري فساد پرضد د علماو په کنفرانس کې وویل، چې حکومت یوازې د قراردادونو په برخه کې په خپلو څېړنو سره توانېدلی، چې ۸.۵ میلیارده افغانۍ وسپموي.

## په افغانستان کې د اداري فساد جرړې

دا چې حکومت به په اسانۍ سره اداري فساد ختم نه کړای شي، ستر لامل یې په هېواد کې د اداري فساد ژورې ریښې او پکې ښکېل زورواکان دي.

د ځینو سروې‌ګانو له مخې، په قراردادونو، ګمرکونو، عدلي او قضایي ارګانونو او پولیسو په ادارو کې د اداري فساد کچه زیاته ده؛ خو که په افغانستان کې د اداري فساد په اړه د روڼتیا څار اداري بېلابېلې سروې‌ګانې له نظره تېرې کړو، نو څرګنده به شي، چې په افغانستان کې د اداري فساد جرړې په دوو ادارو کې تر ټولو زیاتې دي: لومړی په عدلي او قضایي ارګانونو او دویم په پولیسو کې. ځکه د دغې اداري د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کال په سروې‌ګانو کې پولیس او عدلي او قضایي ارګانونه تر ټولو فاسدې اداري بلل شوې وې.

د دې ترڅنګ په قراردادونو او ګمرکاتو کې هم اداري فساد شته دی، چې همدې ټکي ته ولسمشر هم په خپله تېره وینا کې اشاره وکړه، ده وویل: «په ګمرکاتو کې د زورواکانو مالونو ته ۵۰-۶۰ سلنه تخفیف ورکول کېږي... دولتي قراردادونه د فساد پر لویو سرچینو بدل شوي او ډېری دا قراردادونه هغو کسانو ته ورکول کېږي چې مسلکي نه دي.»[6]

---

[5] Christine Roehrs, Return of the Goodwill? London Conference as symbol of a new start, 1 december 2014, see online https://www.afghanistan-analysts.org/return-of-the-good-will-london-conference-as-symbol-for-a-new-start/

[6] See online: http://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2015/09/150901_hh-ghani-speech-on-corruption

د قراردادونو، گمرکاتو، قضا او پولیسو په برخو کې د اداري فساد له منځه وړل اسانه نه برېښي او د حکومت سخت دریځ او اصلاحاتو ته اړتیا لري. د عدلي او قضایي ارگانونو په برخه کې فساد تر ډېره د ښو اصلاحاتو په پایله کې کمېدای شي، مگر د گمرکاتو په برخه کې بیا دواړو (اصلاحاتو او سخت دریځ) ته اړتیا ده؛ ځکه گمرکات تر ډېره د ولایتونو د زورواکانو تر نفوذ لاندې دي.

## د کابلبانک او ښارجوړونې وزارت قضیې

د کابلبانک په قضیه کې له یو میلیارد ډالرو څخه ډېرې پیسې غلا شوې، چې د افغانستان په بانکي تاریخ کې تر ټولو لویه رسوایي وه. اشرف غني د خپلې لوړې په دویمه ورځ د کابلبانک دوسیه بیا پرانېسته. د افغانستان د لويې څارنوالۍ په وینا، تر اوسه یې ۵۰ سلنه پورونه (۴۴۰ ملیون ډالره) ترلاسه کړي دي او د پاتې نورو د ترلاسه کولو لپاره یې هم هڅې روانې دي.

د دې ترڅنگ د ښارجوړونې وزارت شپږ رئیسان هم په سلگونه ملیون ډالرو غلا تورن دي، چې قضیه یې اوس له لويې څارنوالۍ سره ده او په نږدې ورځو کې به محکمې ته وسپارل شي.

خو د اداري فساد په اړه دا دوې دوسیې، یوازېنۍ دوسیې نه دي او نه به یوازې د دې دوسیو په حلولو سره اداري فساد ختم شي؛ بلکې اوسمهال فساد د هېواد په ډېرې ادارو کې په یوه کلتور بدل شوی او یوازې د یوې او دوو قضیو پرانېستل د دې سترې ستونزې حل نه دی.

## حل‌لارې او سپارښتنې

له اداري فساد سره مبارزه په دوو برخو وېشلی شو:

**لومړی:** د اداري فساد پرضد اغېزناکې ادارې او قانونونه؛

**دویم:** د اداري فساد پرضد قانونونه پلي کول.

که څه هم په افغانستان کې د اداري فساد پر ضد ځینې قوانین وضع شوي او د اداري فساد پر ضد یو شمېر اداري هم رامنځته شوي دي؛ خو له دغو هڅو سره سره، په افغانستان کې د اداري فساد کچه کمه شوې نه ده.

عمده لامل يې د اداري فساد پرضد د تګلارو نه پلي کول دي. د بېلګې په ډول حکومتي چارواکي باید خپلې شتمنۍ ثبت کړي. خو په دې تړاو د افغانستان روښتیا څار اداري ارقام ښيي، چې تراوسه د افغانستان په ۱٦ ولایتونو کې پر ۹٦۰۷ دولتي او حکومتي چارواکو فورمې وېشل شوې دي؛ مګر لاهم ۳۴۴۸ کسانو دغه فورمې نه دي ډکې کړې.[7]

د نړۍ ډېرى پالیسي جوړوونکي د اداري فساد پر ضد لومړی ګام شفافیت بولي. په همدې تړاو دوی په خپلو هېوادونو کې نه یوازې دا چې معلوماتو ته د لاسرسي قانونونو وړاندیزونه کوي، بلکې د موجوده قوانینو د تعدیل لپاره هم غږ پورته کوي. که څه هم د افغانستان په پارلمان کې معلوماتو ته د لاسرسي قانون له ډېر ځنډ وروسته راوړاندې او بیا تصویب شو؛ خو اوس هم په دغه قانون کې داسې څه شته، چې بیا تعدیل ته اړتیا لري. د بېلګې په توګه ملي امنیت، ملي ګټې او نورې ټرمینالوژۍ او اصطلاحات پکې په سمه توګه نه دي تعریف شوي.[8]

د دې ترڅنګ په بانکي نظام کې هم اصلاحات په کار دي، ځکه د روښتیا څار اداري او سیګار په اند، پر شخصي بانکونو د مرکزي بانک کنترول کمزوری دی او په دې اړه اصلاحاتو ته اړتیا ده.[9]

له اداري فساد سره د مبارزې لپاره هانک کانګ هېواد ښه بېلګه ده. هانک کانک د ۱۹٦۰ او ۱۹۷۰ لسیزو کې په فساد کې ښکېل و؛ خو وروسته یې د یو لړ رفارمونو له کبله فساد ته د پای ټکی کېښود. په دغو رفارمونو کې د اداري فساد پر ضد د یوې اداري جوړول شامل وو، چې دا اداره بیا په درېو برخو وېشل شوې وه:

**لومړۍ** برخه يې د قانون پلي کول وو؛

**دویم** د اداري فساد پرضد څېړنې؛

او **درېیم** هم په خلکو کې عامه پوهاوی خپرول.

که څه هم د نړۍ په ډېرى هېوادونو کې د اداري فساد پرضد اداري رامنځته شوې؛ خو د هانک کانګ د دغې اداري توپیر د نورو هېوادونو له ادارو سره دا و، چې په هانک کانګ کې تقریباً ۷۰ سلنه وسایل د اداري فساد د قانونونو د پلي کولو په موخه کارول کېدل. تر ټولو زیاته پاملرنه يې د قانون پلي کولو ته وه. ترڅنګ يې په دغه

[7] See online:
http://www.iwaweb.org/_news/news0034_asset_registration_process_of_gov_officials.html
[8] See online:
http://iwaweb.org/_news/news0020_signing_ati_law_by_afg_president.html
[9] See online:
https://www.sigar.mil/pdf/audits/SIGAR%2014-16-AR.pdf

اداره کې تکړه، روزل شوي او د لوړو تحصیلاتو خاوندان په کارونو وګمارل شول او په دې توګه د هغې اداري اغېز زیات شو.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 747575741 (+93) drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com